# د لوړو زده کړو وزارت

## وزارة تعليم العالي

## وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه

## جامعة وردك

## د شرعياتو پوهنځی

## كلية الشريعة

## د فقهې او قانون څانګه

## قسم الفقه والقانون


د اړیکو شمېرې: ۰۷۷۴۵۸۶۲۸۴

برېښنالیک: saeedyhn@gmail.com

فسبوک: وردګ پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی

پته: توپ دښته، سیدآباد ولسوالي، میدان وردګ ولایت، افغانستان


# د فقهې او قانون څانګې پېژندنه

فقه او قانون څانګه د وردګ پوهنتون، شرعياتو پوهنځي په چوکاټ کی په ۱۴۰۱ کال کی تأسیس او د پوهنځي د يوې برخې په حيث په يو تايم کې محصلينو ته په تدريس او د هغوی، سالم تربیت او تولنې ته په فرهنګي او اجتماعي برخو کې د خدمتونو په وړاندې کولو باندې مشغوله ده.

فقه او قانون څانګه د يوې منظمې تګلارې په اساس خپل فعاليتونه د محصلينو لپاره د ليسانس په سطحه د مسلکي قضاتو، امامانو، خطيبانو او محققينو د روزلو لپاره په آتو سمسترونو کې تنظيم کړي دي. په دې څانګه کې د محصلينو د علمي تحقيق ظرفيت په نظر کې نيولو سره درسونه په عملي او نظري ډول وړاندې کېږي.

اوس مهال په فقه او قانون څانګه کې درسونه د ۵ تنه تجربه لرونکو استادانو له لوري پرمخ وړل کېږي، چې نومونه يې په لاندې ډول دي:

۱- مولوي عبدالمجيد حقيار

۲- مولوي محمد زبير بدري

۳- مولوي حشمت الله راشد

۴- مولوي ضياء الحق فاروق

۵- مولوي شفيع الله سعيدي

د فقه قانون څانګې تخصصي مضامين عبارت دي له : تفسير، حديث، عقيدة، فقه، اصول فقه، حقوق او داسې نور مضامين چې په مختلفو سمسترونو کې تدريس کېږي.

### لرليد

د فقهې او قانون څانګه د خدمت په موخه عدلي، قضائي او تعليمي ادارو لپاره متخصص او وړکادرونه روزي، ترڅو دين، هېواد او هېوادوالو ته د خدمت مصدر شي او د هېواد، سیمې او نړۍ په کچه د شرعي علومو تخصص په برخه کې په نړیوال معیارونو بر ابر معتبر علمي مرکز وګرځي.

### وجهة النظر

يهدف قسم الفقه والقانون إلى تدريب كادر متخصص ومؤهل لخدمة المؤسسات العدلية والقضائية والتعليمية، ليكونوا مصدرخدمة للدين والوطن والمواطنين، وليصبح القسم مركزًا علميًا معتمدًا بمعايير عالمية في مجال التخصص بالعلوم الشرعية على مستوى الوطن والمنطقة والعالم.

### رسالت

دفقهې او قانون څانګه د خپل تاکل شوي کريکولم په رڼا کې د مسلکي او تجربه لرونکو استادانو په وسيله تدريس کوي،کوښښ کوي چې په علمي، عدلي او قضائي برخو کې د متخصصو او معتهدو کادرنو د روزني او په دې برخه کې د علمي څېړنو سرته رسولو له لاري په ټولنه کې خپل نقش اورول آداء کړي.

### الرسالة

يقوم قسم الفقه والقانون بالتدريس من خلال منهاج محدد وبواسطة أساتذة مهنيين وذوي خبرة، ويسعى لتدريب كادر متخصص ومؤهل في المجالات العلمية والعدلية والقضائية، ويؤدي دوره في المجتمع من خلال إجراء البحوث العلمية في هذا المجال.

### موخي

۱. د قرآن کريم،نبوي احاديثو، فقهې او اړونده علومو او اصولو مسلکي زده کړه او د اساسي مصادرو پيژندنه يې.

۲.ټولنې ته د تقنين، قضاء او افتاء په برخه کې د يوې قوي، ديني مرجع په توګه ژمن مسلکي کادرونه وړاندې کول.

۳.د توحيد د صحيحي عقيدې، نبوي سيرت زده کړه او په جامعه کې يې د عملي کولو لپاره کارکول.

۴.په نړۍ کې د مختلفو اديانو پيژندنه او د انحر افاتو بيان يې، د اسلام د مقدس دين د مصادرو په وړاندې د نورو ډلو د دريغ بيان او د هغو د شبهاتو له منځه وړل.

۵.د ديني مقدساتو څخه دفاع کول.